# له تاسو يو هم تر هغه بشپړه ايمان نه شي راوړی ترڅو يې خپله نفسي غوښتنه د هغه څه تابع نه وي ګرځولي چې زه ورسره راغلی يم

له ابو محمد عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «له تاسو يو هم تر هغه بشپړه ايمان نه شي راوړی ترڅو يې خپله نفسي غوښتنه د هغه څه تابع نه وي ګرځولي چې زه ورسره راغلی يم».

[النووي وايي: حديث صحيح دی] [موږ په كتاب الحجة كې په صحيح سند سره روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم څرګنده کړې ده چې انسان تر هغه وخته پورې بشپړ مؤمن نه شي جوړېدلی چې خوښه يې د هغه څه تابع نه وي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پرې له اوامرو، نواهيو او داسې نورو څخه راتګ کړی دی، نو هغه څه به خوښوي چې هغه پرې امر کړی او له هغه څه نه به کرکه لري چې هغه ترې منع فرمايلي ده.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee